سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۱۲/۰۶

# وېـــره

د سپینو وریځو منځ کی، وریځي تورې دي راوځي
د ویـرې بـلاګـانـي ، ورنه نـورې دي را وځـــــي

پخـوا خـو دي ممبـرنه، را وتـــي خـورې خبـرې
خو نن ورنه کړې او ستغي سپورې دي را وځي

پرون راته ښه یاد دی، له ښوونځي وتل ښوونکي
اوس ګـورم بنـیادم، لکـی ور پـورې دي را وځي

څه بل شان تماشا ده، څوک یی نه ویني چی څه دي
کوڅـې ته له کورو، سترګې شمکورې دي راوځي

نغمـې وې کـرکرې وې، ګلګـڅـونو کی د زرکو
نن باغ نه د بلـبلـو، خـولګــی پـورې دي راوځــي

رنــدان بـه را وتـل ، د میـــکـــدونـه پـه ګـــدا
خماربیرته راځي، چاتې نســکورې دي را وځي

وحشت را ایله شوی، کلیـوال تبـنـتي له کلي
هردم سرې خواره، له هرې لورې دي را وځي

دسمبر/۲۰۲۰
ایجکس – تورنتو - کاناډ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ